**بسم الله الرحمن الرحيم**

**په اسلامي تمدن کې بشري ارزښتونه**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: « يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ»ژباړه:« اې خلکو له خپل هغه رب څخه ووېرېږئ چې تاسي يې له يو تن څخه پيدا کړئ»او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمايي: يقينا زه ددي لپاره را ليږل شوی يم چې نيک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

د اسلام مبارک دين پداسی يو تمدن باندي ولاړ دي چې د بشري ارزښتونو اخيري درجي ته رسيدلي او د بشريت لپاره د ميني محبت ورورولي عدالت او د برابري لاره کښلي ده او دا د هغو اخلاقي او تمدني ارزښتونو په چوکاټ کې چې په ترڅ کې بايد امت ترمنځ يووالی رامنځته شي نه داچې د هغوي ترمنځ جدايی او جوړښت رامنځته شي ويجاړي نه ترڅو د ټولو خلکو لپاره د امنيت او د سولي د برقراری لپاره کار ترسره شوی وسي.

د اسلام د مبارک دين تمدن په شرعي ارزښتونو او په قرانکريم او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د احاديثو څخه راخيستي دي پدي دواړو کې د لويو بشري ازرښتونو ساتنه شوی لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ» ژباړه:« اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چې تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.»، نو انسان ته عزت ورکړل شوي دي ځکه چې الله جل جلاله د هغه درناوي کړي بغير لدي چې د هغه نژاد رنګ او  دين ته وکتل شي په بل ځاي کې فرمايي:« وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ » ژباړه:« دا خو زموږ پېرزوينه ده چي بنيادم ته مو لويي ورکړه»، همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې تاسی ټول د ادم عليه السلام اولاده ياست او آدم عليه اسلام د خاورو څخه پيدا شوي او کله چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ناست وو نو يو جنازه تيريده نو پيغمبر صلی اله عليه وسلم ودريدو ورته وويل شو چې دا د يهودي جنازه ده پيغمبر صلی اله عليه وسلم وفرمايل آيا هغه نفس نه وو؟.

همدارنګه د اسلامي تمدن د بشري ارزښتونو د جملي څخه بل دادي چې د اسلام مبارک دين د عقيدي په آزادی باندي ټينګار کړي دی هغه يی په څرګند ډول ويلي دي چې د تاويلاتو وړ ندي او همدارنګه د عباداتو د ترسره کولو او ټولو لپاره د هغوي د عبادت ځايونو د ساتني امر کړي دي او د ټولو هغو شکلونو رد يی کړي چې په ترڅ کې په چا باندي زور وشي او

يا ترهگري ترسره شي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ»ژباړه:« د دين په چارو کې څه زور او مجبورول نشته»، او بيا فرمايي: {وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ}ژباړه:« که ستا د رب اراده دا وای (چې په ځمکه کښې دي ټول خلک مؤمنان او حکم منونکي اوسي)، نو د ځمکي ټولو اوسېدونکو به ايمان راوړی وای. نو ايا ته خلك مجبور وې چې ايمان راوړي؟»، او بيا فرمايي: {فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ * لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ}ژباړه:« ښه نو [اې پېغمبره (ص)!] نصيحت کوه، ته يوازې نصيحت کوونکي يې؛* هيڅ پر هغو زور زياتی کوونکی نه يې.»، او بيا فرمايي:«إِنْ عَلَيْكَ إِلا الْبَلاغُ» ژباړه:« پر تا خو يوازې د خبرې (پيغام) رسولو مسوليت دی».

همدارنګه د بشري ارزښتونو د جملي څخه بل هم د کمزورو خلکو باندي رحم کول او د سپين ږيرو درناوي کول او د هغو خلکو چې هغوي معيوبه وي د هوي بشپړ حقونه ورکول لکه چط نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي الله جل جلاله به دي امت ته د کمزورو خلکو په واسطه برئ ورکوي ځکه چې د هغوي دعاء اخلاص او لمونځ الله ته زر قبليږي او همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې زمونږ څخه هغه څوک ندي چې په وړو باندي رحم ونکړي او د مشرانو درناوي ونکړي او کله چې عمر بن خطاب رضي الله عنه د اهل کتابو به سپين ږيري باندي تيريدلو نو د هغه دروازه يې وټکوله نو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چې مونږ ستا په ځواني کې له ستا سره انصاف ندي کړي نو په سپين ږير توب کې هم له مونږ څخه ضايع شوی وي نو همدا وو چې هغه ته يې د بيت المال څخه هغه څه ورکړل چې ورته اړتيا يې درلودله او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې رحم کوونکي باندي الله رحم کوي تاسو په هغه چا باندي رحم وکړي چې ځمکه کې دي ترڅوپه تاسو باندي هغه څوک رحم وکړي چې په اسمانونو کې دي.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

يقينا د اسلامي تمدن د بشريت ارزښتونه پدي باندي بسنه نکوي چې د بشريت سره بايد دغه ډول چال چلند وشي بلکي دا بشري ارزښتونه دا يوازي د انسانانو پوري نه بلکي حيواناتو ته هم شامليږي او ددی دليل دادی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې کله د انصارو د يو سړي باغچې خوا کې تيردلو يو اوښه يی وليدله چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته يی فرياد کولو او د هغه د سترګو څخه اوښکي تللي نوپه هغه باندي لاس راکښلو نو غلي شو پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې ددي اوښ خاوند څوک دی يو ځوان د انصارو څخه راغي او وی ويل چې دا زمونږ دی ای د الله رسوله پيغبر صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل ته د الله څخه نه وريږي پدي حيواناتو باندي چې الله تاته درکړي دي؟ ځکه چې هغه ماته شکايت وکړ چې ته يی وږي او تږي پريدي.

همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه چنچړه ولیدله چې د هغه سره دوه بچی نو نو دا دوه بچی چا تری وړي وو نو پیمغبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دی سره چا دا ظلم کړي دي د هغه بچې بیرته ورته راولي.

بشریت ټول دیته اړتیا لري چې دغه ډول بنسټونه او انساني ارزښتونه باید پلي کړي ترڅو زمونږ اسلامي تمدن د تاریخ په اوږدو کې یو د مهمو تمدنونو د جملې څخه وګرځي.

**الله د زمونږ هیواد مصر په ارام او آرامتیا کې وساتي او د نړۍ ټول هیوادونو کې د امنیت برقرار شي.**